د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت



۱۰۶مه گڼه، ۱۴۰۵ چنگاښ: لومړی مخ/ شماره ۱۰۶ سرطان ۱۴۰۵:صفحه اول

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیرد کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو له عالي کمېشنر ښاغلي برهام صالح او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام له مشر ښاغلي الکساندر ډي کرو سره وکتل.

۱۴۰۵ چنګاښ ۱۶ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیرد کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو له عالي کمېشنر ښاغلي برهام صالح او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام له مشر ښاغلي الکساندر ډي کرو سره وکتل.

په دې ناسته کې د افغان کډوالو پر وضعیت، ستونزو او په راتلونکې کې د همکاریو د پراختیا په اړه خبرې وشوې.

د ناستې په پیل کې ښاغلي برهام صالح د یاد وزارت له همکاریو مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې ملګري ملتونه له افغانانو سره مرستو ته ژمن دي.

نوموړي کابل ته د خپل سفر موخه د کډوالو د وضعیت ارزول، د برنامو له پلي کېدو څارنه او له اړمنو سره له نږدې کتل یاد کړل. هغه په افغانستان کې اوسنی امنیت او د نشه یي توکو پر وړاندې د اسلامي امارت د مبارزې ستاینه وکړه.

ښاغلي برهام صالح څرګنده کړه، چې د راستنېدونکو شمېر او د اړمنو اړتیاوو ته په کتو افغانان لاډېرو بشري او پراختیایي مرستو ته اړتیا لري، نوموړي وویل، هڅه کوي چې د نړۍوالو لاډېرې مرستې راجلب کړي.

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنر له پاکستان او ایران څخه په جبري ډول د افغانانو اېستل او پر وړاندې یې ناسم وضعیت د اندېښنې وړ وباله او په وینا یې، چې د افغان مهاجرینو د ستونزو حل او باعزته ستنېدو لپاره درې او څلور اړخېزو ناستو ته اړتیا ده.

ښاغلي برهام د خبرو په پای کې پر دوو اړخېزه همکاریو ټینګار وکړ او د کډوالو د لړۍ د مدیریت په برخه کې یې د مهاجرینو چارو وزارت هڅې اغېزمنې وبللې.

دغه راز د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام مشر الکساندر ډي کرو افغانستان ته له سفر سره سم په جلال اباد او مزارشریف کې له پراختیایي پروژ څخه د لیدنې یادونه وکړه. ښاغلي ډي کرو په افغانستان کې اوسنی امنیت او د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه د اسلامي امارت لویې لاسته راوړنې وبللې او د افغانانو د اقتصادي ودې په برخه کې یې د نړۍوالو پر همکارۍ ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، چې باید د افغانانو له شته ظرفیتونو څخه ګټه واخیستل شي.

محترم مولوي عبدالکبیر ښاغلي برهام صالح او ښاغلي الکساندر ډي کرو او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست وویل او کابل ته یې د هغوی سفر مهم او ګټور وباله.

محترم وزیر وویل، چې د ملګرو ملتونو ادارو په سخت وخت کې له افغانانو سره مرستې کړې دي او لاهم ګڼو افغانانو ته خدمتونه وړاندې کوي.

هغه زیاته کړه، چې د پرله پسې جګړو او ځینو پېښو له امله میلیونونه افغانان کډوالۍ ته اړ شوي او باید هڅه وشي، چې د کډوالۍ اصلي لاملونه له منځه یوړل شي.

د نوموړي په وینا چې اسلامي امارت د اقتصادي ودې په موخه ګڼې لویې پروژې او سیمه ییز اتصال پیل کړی او پر اقتصادي ستونزو سربېره میلیونونو راستنو شویو او بېځایه شویو افغانانو ته اړین خدمتونه وړاندې کېږي.

محترم وزیر څرګنده کړه، چې بشري مرستې باید سیاسي نه شي او له اړمنو سره دې د مرستو کچه لوړه شي.

د ناستې په پای کې برخه والو د افغان کډوالو ستونزو ته د رسېدنې په موخه یو لړ وړاندیزونه او سلا مشورې سره شریکې کړې.



## وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان با سرپرستان خانواده‌های قربانیان حادثه سقوط موتر در دریا، در ولایت لغمان، دیدارکرد

محترم مولوی عبدالکبیر، وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان، با سرپرستان خانواده های قربانیان حادثه سقوط موتر در دریا، در ولایت لغمان دیدارکرد.

در این دیدار، علاوه بر سرپرستان و اعضای خانواده‌های شهیدان و زخمی ها، ملا امین جان عمری معین وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی و مولوی بصر صاحبزاده رئیس عمومی امور کوچیان وزارت سرحدات، اقوام و قبایل نیز حضور داشتند.

محترم وزیر امور مهاجرین به خانواده‌های شهدا تسلیت گفته، برای زخمی‌ها آرزوی سلامتی کامل کرد و این حادثه را ناگوار توصیف کرد.

وی اظهار داشت که آخرین جسد از قربانیان این حادثه امروز پیدا شده و به خانواده‌اش تسلیم خواهد شد.

ایشان مهاجرت افغان ها را در دو دوره جهاد گذشته افتخارآمیز دانست و افزود: بازگشت مهاجرین افغان در زمان حاکمیت نظام اسلامی نیز نشان دهنده افتخار است.

محترم وزیر امور مهاجرین خدمت به بازگشت‌کنندگان و حمایت از آن ها را وظیفه اسلامی امارت یاد کرد و بیان داشت: وزارت امور مهاجرین درهای خود را به روی تمامی افغان ها باز نگه داشته است.

همچنین نمایندگان حاضر مهاجرین از تلاش های امارت اسلامی در خصوص حل مشکلات شان قدردانی نموده افزودند: رهبران حکومت به طور به موقع به آن‌ها همدردی و کمک کرده‌اند.

در پایان نشست، محترم مولوی عبدالکبیر به خانواده‌های شهیدان و زخمی ها مساعدت های غذایی، نقدی و سرپناه کمک کرد.



## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د ننګرهار ولایت له مرستیال مولوي غلام الرحمن حیدري سره وکتل

په دې ناسته کې چې د ننګرهار د سیندزې حوزې رییس مولوي سیدفضل احد هم برخه لرله، په یاد ولایت کې د کډوالو د وضعیت او ورسره د شویو مرستو په اړه خبرې وشوې.

ښاغلي مولوي غلام الرحمن حیدري وویل، چې ننګرهار ته د ورستنو شویو د ستونزو د حل لپاره ګڼې هڅې شوې دي او په عمري پنډغالي کې د مهاجرینو لپاره ټولې اړینې اسانتیاوې چمتو شوې دي.

د ښاغلي مرستیال په وینا چې د ننګرهار سمیه ییزو ادارو د بېځایه شویو او راستنېدونکو ستونزو ته د رسیدنې په موخه اړینه همغږي رامنځته کړې او د امارتي ادارو سربېره ټولې ادارې د اړتیا له مخې خپلې چارې تنظیموي.


د سیندیزې حوزې رییس څرګنده کړه، چې د ننګرهار په بېلابېلو سیمو کې د راستنو شویو لپاره د پاکو اوبو د رسولو ګڼې پروژې پلې شوې دي او د پلان له مخې به دا لړۍ دوام ولري.

د ناستې پر دوام ښاغلي مولوي غلام الرحمن حیدري ځینې وړاندیزونه له محترم وزیر سره شریک کړل.

محترم مولوي عبدالکبیر د ننګرهار مرستیال او ورسره مل مسوولینو ته ښه راغلاست وویل او د هغوی د هڅو ستاینه یې وکړه.

محترم وزیر وویل، چې د کډوالو موضوع د اسلامي امارت په لومړیتوب کې ده او له همدې امله ګڼو ادارو ته دنده سپارل شوې، څو اړمنو ته پر وخت خدمات وړاندې شي.

د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر شریکو شویو وړاندیزونو ته د رسېدنې یادونه وکړه.



## وزیر امور مهاجرین و عودت‌کننده گان با معین وزارت آب و انرژی، دیدار کرد

محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت‌کننده گان با انجنیر مجیب الرحمن عمر اخندزاده معین وزارت آب و انرژی، دیدار کرد.

در این نشست که در مورد چگونگی تأمین آب برای مناطق مسکونی بازگشت‌کننده گان و سطح نیازمندی ها صحبت شد، محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر گفت: تلاش‌ها برای حل مشکلات کمبود آب و بهره برداری بهینه از منابع موجود در بسیاری از مناطق کشور، از جمله شهر کابل، در حال انجام است.

وی افزود: طرح کوتاه‌مدت مدیریت آب تهیه شده و در مرحله نهایی تأیید قرار دارد. به گفته آقای اخندزاده، برنامه هایی نیز برای تأمین آب مورد نیاز مناطق مسکونی در حال اجراست و برای مناطقی که با کمبود آب مواجه هستند، بودجه‌ای برای تأمین آب از سایر مناطق و همچنین ساخت یک بند آب در کابل تخصیص یافته است.

در ادامه نشست، درباره امکانات و چگونگی تأمین آب برای شهرک های مهاجرین بحث و معلومات لازم به اشتراک گذاشته شد.

محترم مولوی عبدالکبیر به محترم انجنیر مجیب الرحمن اخندزاده خوش‌آمدید گفته و از تلاش‌های وی تقدیر کرد.

محترم وزیر امور مهاجرین اشاره کرد که تغییرات اقلیمی و عدم مدیریت منابع آب در چند دهه اخیر، چالش های زیادی را به همراه داشته و یادآوری کرد که امارت اسلامی به این موضوع توجه بالایی دارد و انتظار می‌رود که در چند سال آینده آب مورد نیاز برای شهرهای بزرگ و مناطق دورافتاده تأمین شود.

محترم مولوی عبدالکبیر تأکید کرد که در زمینه مدیریت آب نباید زمانی هدر برود و بر تأمین آب برای شهرک های بازگشت‌کنندگان تأکید کرد.



## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د لویې پکتیا د جهادي څېرې او قومي مخور حاجي عبدالرحمن ځدراڼ په ملتیا له ځینو قومي مشرانو سره وکتل

دغو قومي او مشرانو د ولس د ستونزو په حل کې، د اسلامي امارت هڅو ته په اشارې سره وویل، چې د راستنو شویو د غوښتنو او وړاندیزونو پر بنسټ ګڼو اړمنو کورنیو ته د خوارکي او سرپنا په برخه کې اړتیا وړ مرستې رسیدلې دي او په راتلونکې کې یې د ورته هڅو د دوام غوښتنه وکړه.

د ناستې په لړ کې حاضرو مشرانو او قومي مخورو په خپلو سیمو کې ځینو خدماتو ته د لاس رسي په موخه خپل وړاندیزونه شریک کړل.

محترم مولوي عبدالکبیر راغلو قومي مخورو او مشرانو ته ښه راغلاست وویل او د اسلامي نظام او ولس په اړیکو کې یې د هغوی د هڅو او ونډې ستاینه وکړه.

محترم وزیر د ولس ستونزو او غوښتنو ته رسیدنه د اسلامي نظام مسوولیت یاد کړ او په وینا یې چې د کډوالو چارو وزارت په هڅو اړمنو ته د مرستو نوې لړۍ پیل شوې او ګڼو کورنیو ته به ورسیږي.

محترم وزیر شریک شوي وړاندیزونه مهم وبلل او زیاته کړه، چې له اړوندو ادارو سره په همغږۍ به، ورته د رسیدنې لارې چارې ولټول شي.



## برنامه نیاز سنجی آموزشی در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان برگزار شد

بخاطر اولویت بندی نیاز های آموزشی و بهبود ظرفیت های تخصصی کارمندان وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، برنامه نیازسنجی آموزشی در تالار کنفرانس های این وزارت، برگزار شد.

نخست، محترم شیخ کلیم الرحمن فانی معین مالی و اداری وزارت سخنرانی نموده برگزاری چنین برنامه ها را یک اقدام نیک دانسته و بر اهمیت واگذاری مسئولیت ها به افراد مرتبط تأکید کرد.

محترم فانی در ادامه گفت: اسلام یک دین کامل است و بر مسئولان لازم است که موضوعات واگذار شده را به درستی درک کنند تا در امور کاری خود از اطلاعات به نحو احسن استفاده کنند.

ایشان بیان کرد که کارها باید بر اساس اصول و روش های صحیح انجام شود و برای هر برنامه، افراد متخصص و مربوطه باید معرفی گردند و برای دستیابی به موفقیت در هر موضوع، باید جزئیات و کلیات آن به‌خوبی درک شود.

سپس حافظ اسدالله هارون، رئیس انستیتیوت خدمات ملکی، صحبت نموده گفت: آموزش و هماهنگی برای جمع‌آوری نیازسنجی بسیار مهم است و هر آنچه در توان ما باشد، برای همکاری با شما در زمینه ارتقای کیفیت خدمات انجام خواهیم داد.



## په مهاجرینو چارو وزارت کې د پناه غوښتنې مسودې قانون په اړه ناسته وشوه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د مسلکی معین الحاج مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ د پناه غوښتنې مسودې قانون په اړه معلوماتي ناسته وشوه.

دغه ناسته د بهرنیو چارو، کورنیو چارو او عدلیې وزارتونو، سترې محکمې او استخباراتو ریاست د استازو په شتون کې ترسره شوه.

په یاده ناسته کې د پناه غوښتنې مسودې قانون په اړه خبرې وشوې، د اړوندو وزارتونو استازو د یادې مسودې د پیاوړتیا او اصلاح په موخه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل.

ښاغلي راشد ټینګار وکړ، چې دغه قانون باید د کډوالو د شرعي او اسلامي حقونو په پام کې نیولو سره هغوی ته د پناه غوښتنې حق او ملاتړ زمینه برابره کړي.

د یادونې وړ ده، چې د پناه غوښتنې دغه مسوده د یاد وزارت د کمېټې او اړوندو ادارو له لوري نهایي شوه او ژر به عدلیې وزارت ته ولېږل شي.



## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین با معاون دفتر برنامه های انکشافی سازمان ملل متحد دیدار نمود

محترم مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، امروز ۴ شنبه ۲۴ سرطان، با معاون دفتر برنامه های انکشافی سازمان ملل متحد(UNDP) دیدار نمود.

محور این نشست در خصوص بررسی پیشرفت کار پروژه های پایدار که از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، سازمان بین المللی مهاجرت، برنامه اسکان بشری و برنامه انکشافی سازمان ملل متحد که در ولایات بغلان و کندز تطبیق میگردد، بود.

محترم راشد در ابتدا ضمن اشاره به اهمیت همکاری خواستار توجه ویژه UNDP به تسهیل اجرای برنامه ها شده تاکید بر همکاری، هماهنگی با واحد های دومی در حل مشکلات شد.

معاون UNDP نیز ضمن ابراز خرسندی از همکاری ها، به اهمیت نشست ها، تهیه ساختار با ادارات سکتوری و ایجاد تیم تخنیکی در خصوص رسیده گی به مشکلات اشاره کرد هدف از اجرای پروژه ها را رشد اقتصاد مهاجرین در افغانستان عنوان نمود.

دو طرف بر ادامه همکاری و هماهنگی جهت تحقق اهداف مشترک تاکید کردند.

چنین نشست ها نشان دهنده عزم و اراده مشترک وزارت امور مهاجرین و عودت

کننده گان برای پیشبرد پروژه های اقتصادی و اجتماعی برای مهاجرین در کشور میباشد.



## د مهاجرينو چارو وزارت او د کډوالۍ نړۍوال سازمان ترمنځ ناسته وشوه

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت د دفتر رييس مولوي سعيد احمد بنوري په مشرۍ د همکارۍ او د کډوالو ستونزو حل په موخه د کډوالۍ د نړۍوال سازمان له استازي سره ناسته وشوه.

په دغې ناسته کې د سرپناه جوړولو، په فرضي کرښو او سرحدونو کې د ستونزو حلولو، د حل لارو موندلو، همکارۍ دوام، منظمو ناستو، له راستنو شويو سره د مرستو او د تېرو ناستو د پرېکړو تعقيب په اړه خبرې وشوې.

ښاغلي بنوري وويل: کډوال له ستونزو سره مخ دي، هغوی مرستو ته اړتيا لري، زموږ مسووليت دا دی، چې ژر تر ژر ورته رسېدنه وکړو.

نوموړي زياته کړه، چې موږ د ستونزو حل او اړتياوو پېژندلو لپاره همکارۍ او د منظمو ناستو سم مديريت ته ژمن يوو. هيله لرو، چې ستاسو په مرسته د کډوالو وضعيت ښهوالي لپار وړ کړنلارې وړاندې کړو.

د کډوالۍ نړۍوال سازمان استازي له کډوالو سره پر خپلو مرستو ټينګار وکړ او د راستنو شويو د اړتياوو پوره کولو لپاره يې د ملاتړو برنامو د پيل ډاډ وړاندې کړ.



## یک تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان یک تفاهم نامه همکاری را با موسسه احیای مجدد انصاری برای افغانستان به ارزش ۲۸ هزار و ٦٦٨ دالر امریکایی به امضاء رسانید.

به اساس تفاهم نامه که عقد گردید موسسه یاد شده مبلغ مذکور را در بخش اگاهی دهی و توزیع پول نقد برای ۱۱۴۵۸ خانواده بیجاشده، برگشت کننده و جامعه میزبان در ولایات قندهار، هلمند و نیمروز به مصرف میرساند.

امضای چنین تفاهم نامه ها نشان‌دهنده تعهد وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به حمایت از مهاجرین برگشت کننده و بیجاشده است و انتظار می‌رود با ادامه این برنامه‌ها، شرایط زندگی مهاجرین بهبود یابد.



## د هند سفارت د راستنېدونکو لپاره تر زرو زیاتو خېمو مرسته وکړه

له افغانستان سره د مرستو پر دوام د هند هېواد سفارت د رواني مياشتې په ۲۲مه له مهاجرينو چارو وزارت سره د راستنېدونکو د لومړيو اړتياوو پوره کولو په موخه د شاوخوا ۲۲ ميليونو او ٦۰۵ زره افغانيو پر ارزښت د يو زر او ۵۰۰ خېمو مرسته وکړه.

د يادې مرستې د سپارلو مراسم د ياد وزارت او د هند هېواد سفارت د استازو په شتون کې په کابل کې ترسره شول.

د مهاجرينو چارو وزارت له دغې مرستې مننه وکړه او څرګنده يې کړه، چې دغه خېمې به تر ارزونې وروسته په راڼه او عادلانه ډول مستحقو راستنو شويو کورنيو ته ووېشل شي.

همدارنګه ياد وزارت له ټولو هغو مرستندويو هېوادونو او موسسو څخه، چې له زيانمنو کورنيو او راستنېدونکو سره مرستې کوي، مننه وکړه او د ورته مرستو د دوام هيله يې څرګنده کړه، تر څو د راستنېدونکو کورنيو د ژوند ښه والي کې مرسته وکړي



توزیع کمک غذایی برای خانواده های برگشت کننده و بیجاشده در شهر کابل آغاز شد

توزیع کمک های غذایی بشردوستانه برای ۳ هزار خانواده مهاجر برگشت کننده، بیجاشده و نیازمند در شهرکابل امروز، ۳ شنبه ۳۰ سرطان، آغاز شد.

مرحله نخست توزیع کمک یادشده، برای ۴۰۰ خانواده برگشت کننده که در نواحی مختلف شهر کابل توسط ریاست مهاجرین شناسایی شده بودند آغاز یافته و قرار است که در آینده خانواده های بیشتری ازآن بهره مند شوند.

این کمک غذایی شامل ۵۰ کیلو آرد، ۵ کیلو لوبیا، ۵ کیلو برنج، ۵ کیلو بوره و یک بوتل ۵ لیتره روغن میباشد که از طرف بنیاد خیریه ملک سلمان در همکاری تخنیکی موسسه توحید توزیع میشود.

گفتنی است که بنیاد متذکره قبلاً نیز نظیر چنین کمک ها را برای ٦۰ هزار خانواده در سراسر کشور آغاز نموده بود که شماری از خانواده های برگشت کننده در بسیاری از ولایات از آن مستفید گردیده اند.

این اقدام در راستای حمایت از خانواده های آسیب‌دیده و نیازمند که اخیراً به کشور بازگشته‌اند، صورت گرفته است.

وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به عنوان نهاد مسئول، تأکید دارد که در مسیر حمایت از حقوق مهاجرین و بازگشت‌کنندگان متعهد است و تلاش می‌کند تا با برنامه های مختلف، به بهبود شرایط زندگی این خانواده‌ها کمک نماید.



## بیش از دو هزار خانواده درچهار ولایات کشور از مساعدت های بشری مستفید گردیدند

برای ۲۲۴۹ خانواده عودت کننده ، بیجاشده و نیازمند در ولایات نورستان ، ننگرهار، کابل و بغلان کمک های خوراکی، نقدی و وسایل کاری توزیع شد.

خانواده های متذکره که قبلاً توسط موسسات همکار درهماهنگی واحد های دومی مهاجرین در ولایات یاد شده شناسایی شده بودند تعداد ۱۰۰۰ خانواده در ولایت نورستان ۵ قلم مواد خوراکی وبه ۱۰۵۰ خانواده در ولایت ننگرهار ۵ قلم مواد خوراکی، وسایل کاری دربخش خیاطی و ترمیم موبایل و مبلغ ۵ هزار دالر امریکایی ، به ۱۱۰ خانواده در کابل مبلغ ۷۴۷ هزار و ۲۰۰ افغانی و برای۸۹ خانواده در ولایت بغلان مبلغ ۱۳ میلیون و ۶۰ هزار و ۷۵۰ افغانی کمک نهاد های همکار این وزارت توزیع شد.

همچنان، برای ۲ خانواده در ولایت بغلان دو باب خیمه، و برای ۳۸۶ تن در ولسوالی قره باغ ولایت کابل جهت اخذ تذکره برقی مبلغ ۲۸۰ هزار و ۵۰۰ افغانی نیز کمک موسسات همکار این وزارت توزیع گردید.

که توزیع چنین کمک ها به منظور حمایت از افراد آسیب پذیر و کاهش مشکلات ناشی از وضعیت اقتصادی مهاجرین برگشت کننده صورت گرفته است.









## تېره میاشت نیږدې له ۵۰زرو کډوالو کورنیو سره تر ۱۰۰ میلیونو د زیاتو افغانیو پر ارزښت مرستې شوې

تېره میاشت کې له بېځایه شویو، راستنو شویو او اړمنو کورونیو د ملاتړ په موخه، په ۲۳ ولایتونو کې له ۴۵ زره او۵۵۰ کورنیو سره د۱۸۱ میلیونه ۳۴۳ زره او ۴۲۲ افغانیو پر ارزښت نغدي، خوراکي، روغتیایي، جامو او نورې مرستې شوې دي.

دغه مرستې په کابل، دایکندي، ننګرهار، لغمان، نورستان، کونړ، خوست، لوګر، کندهار، هلمند، زابل، ارزګان، هرات، فراه، بادغیس، نیمرزو، غور، بلخ، بغلان، سرپل، سمنګان، کندز او تخار کې له یادو کورنیو سره د لومړیو اړتیاوو پوره کولو او ژوند ښه‌والي په موخه شوې او تمه کېږي، چې یادې مرستې به یې ستونزې حل کړي.

دغه مرستې د یاد وزارت د دویمي واحدونو په همغږۍ او همکارۍ د دولتي او خیریه بنسټونو له لوري وېشل شوې.

د مهاجرینو چارو وزارت دغه اقدام له کډوالو کورنیو سره د خلکو او ټولنیزو بنسټونو خواخوږي او همدردي ګڼي او هیله لري، چې د ورته مرستو په زیاتوالي سره د کډوالو کورنیو د ژوند ښه‌والي هڅه وشي.

## بیش از دوهزار تن مهاجر زندانی از زندان‌های پاکستان آزاد و به کشور برگشت نمودند

۲۰۵۴ تن از زندانیان مهاجر افغان پس از سپری نمودن مدت زمان های مختلف از زندان های پاکستان رها شده و به میهن برگشت نمودند.

افراد یاد شده شامل خانواده ها و مجردین بوده که به دلایل مختلف در پاکستان زندانی شده بودند که از جمله ۱۶۰۱ تن از طریق خط فرضی تورخم در ولایت ننگرهار و ۴۵۳ تن از طریق سپین بولدک در ولایت قندهار به افغانستان برگشت داده شده اند.

آنان پس از مساعدت نهاد های همکار به محلات اصلی شان انتقال شدند.

